# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|

امین بسمل
۰۵ جون ۲۰۱۲



# شـمله ور ماتم ځپلي

ځو موزیان یي دمشرانو په نوم موړ باندې تپلي
مشران نه دي غلا مي ته یي له وخته وو روزلي

دایمان سودا نو چا په غیران وکړه دا خو دوی وو
ننګ یي خرڅ همت یي خرڅ کړ موږ شړلي دي له کلي

چي امام خپل مقتدیان لکه چرګان په شیطان پلوري
شرم نه دی چي لا هم وي پسي نبغ نبغ درېدلي

پخپل لاس یي ورتېره کړه دقصاب چاړه بناغلو
اوس به هر یو حلالیري دا سپېره اجل نیولي

په تاریخ کي ما ونه لوستل چي دومره دون همت وي
خپل ناموس په نورو ساتي لکه مړي غځېدلي

نن به ځومره داحمد او میرویس خان روح وي نارامه
چي په ملک مو مسلط شول دا راغلي نابللي

دا یو ځو خرڅ شوو بارکړه جنازه زموږ دفخر
دوی پخپله په ځان وکړل اوس دې ګرزي لاس تړلي

څه شوي څه شوې ها سجدې هغه الکي هغه ځګونه
دغه یو عالم سکه ورونه مو ځکه غولولي

د الله په نوم چي ځوک کړي تجارت انجام یې دا وي
راوتی به بهر نشي وي به تل سوړو کي غلي

دکابل په کنډوالو کي غرېو نیولی ګرځم ځکه
ای بسمله پکي وینم شمله ور ماتم ځپلي

ځو موزیان یې دمشرانو په نوم موږ باندي تپلي
مشران نه دي غلا مي ته یې له وخته وو روزلي